،،که ستا په مینه کښي می وژنی څه ټینشن نشته دې
،،،،اوس یا وطن او یا کفن نور څه اپشن نیشته دې

،،نو خامخا به دغه حلګ په مونږ لوبی کوی
،،،،چی د وَلس یی په ایکشن څه ري اکشن نشته دې

،،دلته کی پریکړی د زورواکو او ظالم چلیږی
،،،،دلته مظلمو سره توان د ابجیکشن نشته دې

،،وطن یی خرڅ ایمان خرڅ اسلام یی هم خرڅ کړو
،،د دی کَسانو او د ضمیر څه کنیکشن نشته دې

د جړاګانو محفلونه او جنازئ وی مدّام
،،،،د خوشحالئ په دی وطن کښی څه فنکشن نشته دې

،،د وطن جنګ سلویخت کلن شو څه تری جوړ نه شول
لقمانه خدای ګو بی د سولی سَلوشن نشته دې